# د کډوالو چارو وزارت د وچکالۍ له امله د بېځایه کېدنې څخه د مخنیوي یو هوکړه لیک لاسلیک کړ




دغه هوکړه لیک په هرات ولایت کې د بېځایه شوو او راستنېدونکو کورنیو څخه د اقتصادي او ټولنیز ملاتړ، له طبیعي پېښو دمخنیوي او پاکو اوبو ته دلاس رسي په موخه د کډوالو چارو وزارت او کوردایډ موسسې ترمنځ لاسلیک شو.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر اوپه افغانستان کې د کوردایډ موسسې رییس یاپ ون هیردن د تېرې شنبې په ورځ د غبرګولي په ۲۵مه د یاد هوکړه لیک لاسلیک او د دواړو ادارو په همکارۍ یې ټینګار وکړ.

د کډوالو چارو وزیر په دې اړه معلومات ورکړل ویې ویل، چې د یاد هوکړه لیک ارزښت یومیلیون ۹۸۱ زره او ۶۳۰ یورو دی او له ۱۴ زرو زیات خلک به ترې برخمن شي.

د ذکر شوي پلان په پلي کولوسره به د یاد هوکړه لیک پر اساس په هرات ولایت کې وچکالۍ له امله د بېځایه کېدنې مخنیوی وشي.

یاده موسسه به د هوکړه لیک پر اساس دنغدي پیسو دوېش، ۸ د اوبو رسونې شبکې، ۳۰۰ کورنو جوړولو، ۲۰۰ خېمو وېشلو، ۷۳ د اوبو ژورو څاګانو او ۱۸۰۰ تنو ته د کاري زمینې د برابرولو په برخه کې فعالیت کوي.